**2024-25 ښوونیز کال**
**د ابتدایۀ ښوونځی د وړکتون څخه تر 2 ټولګی پورې د سائنس خوندیتوب قواعد**

**ډاکټر جولیا رینبرګ، د سائنس نظارت کوونکی**

*په سائنس باندې تسلط تر لاسه کولو لپاره عملي پلټنې/تجربې تر سره کول اړين دي، او هر زده کوونکی حق لري چې د زده کړې په خونديو او ګټور چاپيريال کې شتون ولري. د هر ډول سائنيسي فعاليتونو ترسره کولو څخه وړاندې، ضمیمه شوي قواعد بايد زده کوونکو ته ولوستل شي او د زده کوونکو او والدينو / سرپرستانو دواړو لخوا لاسليک شي.*

## زما د خپلو پنځو حواسو سره څېرنه کول - د سائنس د خوندیتوب قواعد

- زه به یو مسؤلیت پیژندونکی سائنس پوه اوسم!
- زه به د سائنسي فعاليتونو تر سره کولو په وخت کې لارښوونو ته غوږ نيسم اوتعقيبوم.
- زه به يوازې د بالغو کسانو سره سائنسي فعاليتونه ترسره کوم.
- زه به تر هغه وخت سائنسي توکو ته لاس نه ور وړم یا ورسره لوبې نه کوم تر څو چې ماته ویل شوي نه وي.
- زه به تل خوندي چلند کوم او يو بالغ کس ته به خبر ورکوم که يو داسې څه وګورم چې خوندي نه وي.
- زه به د خوندیتوب جامې یا عینکې اچوم.
- زه به صفايي تر سره کړم او خپل لاسونه به ومينځم کله چې راته لارښوونه وشي.
- زه به له اجازې پرته هیڅ کوم څیز ته لاس نه ور وړم، خوند نه ګورم، نه څښم یا نه بوي کوم، کوم چې په سائنسي فعاليت کې کارول کيږي.
- زه به د سائنسی فعالیتونو په وخت کی خپل مخ، سترګو او خولې ته لاس نه ور وړم.

## د PWCS د ابتدايۀ ښوونځی سائنس خوندیتوب ژمنه

*ما د خپل ماشوم سره يو ځای د خوندیتوب دا قواعد لوستلی دي. مونږ هوکړه کوو چې دا قواعد او نور هر ډول اضافي لارښوونې به تقيبوو چې مونږ ته د ښوونکي لخوا په ليکلی بڼه يا په شفاهي ډول راکول کيږي. مونږ پوهيږو چې سائنسی خوندیتوب ساتل د هر یو کس مسؤلیت دئ.*

---

د زده کوونکی نوم نیټه

---

د مور یا پلار/سرپرست لاسلیک نیټه